

# د افت ضد درملو خونديتوب – د درملو ګډول

UCDAVIS
COLLEGE OF AGRICULTURAL & ENVIRONMENTAL SCIENCES

معلوماتي پاڼه

## د افت ضد درملو ګډول ولي يوه مهمه موضوع ده؟

کله چي د افت ضد درمل سره ګډ کېږي يا بار کېږي، له مخکي څخه په ډېره لږه اندازه اوبو  کي حل  شوي وي چي بيا وروسته د کارولو په ساحه  کي په معينه اندازه اوبو  کي حل کېږي، څکه نو په داسي حالت  کي د افت ضد درمل ډېر خطرناک وي. ګاټه د افت ضد درمل خاصي پاملرني ته اړتيا لري ترڅو د زيان، چاپيريالي ضررونو او د مڅکي د اوبو د ککړتيا مخنيوی  وشي.

## تر ګډولو  مخکي د خونديتوب پروتوکول

- د درملو د ګډولو لپاره داسي يو ځای غوره کړئ چي د تويېدني په ببړني حالت کي کنټرول او په چټکتيا سره پاک  شي.
- د افت ضد درملو د ټاپي د لارښوونو سره سم، سم محافظتي تجهيزات واغوندئ، چي په نورماله توګه د درملو له ځاڅکو څخه د حفاظت لپاره اوبه نه جذبوونکی پيشبند يا د کار جامي په بر  کي نيسي. تل د سترګو محافظتي اسباب (عينکي، د مخ ساتونکي هنداره، او نور) واغوندئ.
- پر ټاپه باندي د ګډولو طرزالعملونه په بشپړه توګه ولولئ. په عمومي ډول د افت ضد اوبلن درمل د حجم له مخي او پوډري \ وچ درمل د وزن له مخي اندازه کېږي. د اړتيا په صورت  کي د اندازې اړوني په اړه معلوماتي پاڼه وګورئ.

## د ګډولو پر مهال د خونديتوب پروتوکول

- يوازي د پلاستيکي اندازه کوونکو اسبابو څخه کار واخلئ. فلزي اندازه کوونکي اسباب ښايي له افت ضد درملو سره تعامل وکړي، په خاص ډول له اوسپني او المونيم سره.
- د ګاټه افت ضد درملو اندازه کول او له يوه لوښي څخه بل ته تويول تل په احتياط سره او د سترګو تر سطحي لاندي ترسره کړئ، ترڅو سترګو ته د ځاڅکو د راغورځېدو مخنيوی  وشي.
- که چيري درمل له اوبو سره ګډوی، نو يوازي پاکي او له شګو ځني پاکي اوبه استعمال کړئ. ټاسو بايد د اوبو د ډک سطل کښتني برخه وليدلای سئ. ګډدای  شي اوبړی له افت ضد درملو سره تعامل وکړي او قوت يي ور لږ کړي، همدا راز ګډدای  شي د  درمل شيندونکي د پايپ نلکی بنده کړي.
- د ټانکی د ډکولو په وخت  کي د افت ضد درملو د  درمل شيندونکو ماشين د پايپ خوله د هغه د ټانکی له مايعاتو څخه لوړه ونيسئ، ترڅو د اوبو زېرمو ته د درملو د څڅېدو  چي چاپيريال ته ضرر رسوونکي تماميږي، مخنيوی  وشي.
- ښکاره خبره ده، چي د افت ضد درمل بايد په احتياط سره اندازه کړئ. د اندازه کولو په وخت  کي کوچنی اشتباه ګېدای سي د خلکو او چاپيريال لپاره خطرونه پيښ کړي، نباتاتو ته تاوان ورسوي، او يا نباتات نامصئونه پرېږدي. دغه ډول هر حالت هم ګران تماميږي او هم د ضايعاتو سبب ګېږي.

## تر ګډولو وروسته د خونديتوب پروتوکول

- پر ټولو هغو لوښو  چي د افت ضد درملو د ګډولو \ اندازه کولو لپاره استعمال  شوي دي د رنګ يا مارکر په واسطه واضح وليکئ "يوازي د افت ضد درملو لپاره"، حتی د هغو چاړو په شمول چي د افت ضد درملو د بکسو په څيري کولو  کي کار ځني اخيستل  شوی وي.
- د افت ضد درملو د ګډولو او اندازه کولو لوښي په يو قلف  شوي صندوق يا ځانګړي ساحه  کي تر ساتلو مخکي په بشپړ ډول پاک پرېولئ ترڅو په راتلونکي  کي د درملو د ګډولو پر مهال د احتمالي ککړتيا مخه ونيول  شي.
- د افت ضد درملو خالي قُطی يا لوښي درې ځله پرېولئ، په چاړه يي څيري کړئ او دفع يي کړئ \ د بيا توليد لپاره يي وکاروئ \ ويې سوځئ.

ترتيب کوونکي: فرانک زلوم، پات تامپسن، نهضت الله نهضت (پين)، مارک هيندرسن او مارک بيل، جولای ۲۰۰۹

**ماخذونه:** د کوچنيو کروندو لپاره د افت ضد درملو خونديتوب، د کاليفورنيا پوهنتون د کرهنيزو او طبيعي منابعو خپرونه، ۲۱۵۵۵ ګڼه
د افت ضد درملو خوندي او اغېزناک استعمال، د کاليفورنيا پوهنتون د کرهنيزو او طبيعي منابعو خپرونه، ۳۳۲٤ ګڼه

**د لا زياتو معلوماتو لپاره وګورئ:** نړيوال پروګرامونه: http://ip.ucdavis.edu